www.nanafghan.com

# کرزی

لیکوال ـ نیک بې مایلس
ژباړن ـ غلام ولي نوري



**د حامد کرزي ناویل سوی داستان، په ډراماتیکه توګه د افغانستان ولسمشر کیدل او هغه مشکلات چي دی او هیواد یې ورسره لاس او ګرېوان دی.**

کرزی
د امریکا ماتې او د افغانستان لپاره مبارزه
Karzai

# څو خبرې

د نړۍ ملتونه یو له بله د کلتور، دود، ژبې او ځینو نورو عنعناتو او ایډیالوژیکي مشترکاتو پر اساس سره پېژني او د روابطو په استحکام کې دغه چارې خورا مهم رول لري. دغه ډول د نورو ملتونو او اقوامو د نظریاتو او مفکورو په را انتقال کې یوازنۍ ارزښتمنه او ګټمنه لاره د ترجمې هغه ده، چې له دې لارې کېدلای سي، د بېلابېلو ملکونو له هر ډول حالاتو څخه په ژوره توګه خبر سو او د ګټې بل اړخ یې دا دئ، چې زموږ په باب د نورو نظریات او خیالات هم را نقلولای سو، چې له دې لارې به مو ګواکې د خپل ځان په اړه د بل چا تحلیل او نظر اروېدلی وي.

لکه څرنګه چې په پښتو ژبه او ادب کې له بده مرغه د ژباړې بهېر تر نورو ژبو ډېر وروسته پاتې او ټکنی دئ، نو پر همدې بنسټ زیاتره مهال د ژباړې پر اصل او ارزښت خبرې کېږي، خو زموږ په وطن کې د مختلفو بخولو او ستونزو له وجې او د نامساعدي زمینې له امله د ژبې په هیڅ اړخ کې هغونه ژباړه نه ده را منځته سوې، لکه څونه چې توقع کېږي او یا اړتیا ده. په دغه جریان کې چې څه نا څه ترجمې سوي دي، ټولې له هره پلوه تکمیلي ګڼلای نه سو، ځکه چې یا خو په زیاتره ژباړو کې انتخاب د تأمل وړ وي او داسې اثر را ژباړل سوی وي، چې په اصطلاح په لومړیتوبونو کې نه راځي او یا هم کله-کله له کمزورو ترجمو او یا کمزورو آثارو سره مخ کېږو.

زما د معلوماتو له مخي په پښتو ژبه کي د فيصدۍ په لحاظ د داستاني ژباړو ګراف لوړ دئ، چي دا په خپل ذات کي د پښتو داستاني ادب پر کوټه يوه ښه اضافه ده، خو له بده مرغه د علمي اثارو د ژباړي شمېره ډېره ټيټه ده، چي د دې کار له ځينو عواملو څخه يو علت هم دا دئ چي موږ پښتانه لا تر اوسه د ژباړي بهير ته د زړه له اخلاصه ور ننوتلي نه يو او ارزښت ته يې په تمامه معنا قايل سوي نه يو او ځکه نو کله نا کله چي د ځينو ځوانانو له خوا ژباړي کېږي، نو بس پر دغه ځيني داستاني آثارو يې لاس صاف وي او په همدې خاطر زياتره مهال په پښتو کي له ترجمه سوو ناولونو او داستانونو سره مخ کېږو، چي دا کار خپل ارزښت له ځانه سره لري، مګر د دې تر څنګ د علمي او تحقيقي اثارو ترجمه هم د چولاوه پښتو له پاره د وني سايه او تر هغې را لاندي د اوبو غوړپونه ګڼل کېږي.

له نېکه مرغه د دې وروستيو څو بوختو سياسي - بحراني کلونو په جريان کي پښتو ته په ډېر تعداد سياسي او تحليلي آثار را ترجمه سوي دي، چي د دې ولس په ويښتيا او خبرتيا کي يې ونډه اخيستې ده، چي په دغه لړ کي دا دئ د ښاغلي غلام ولي نوري په همت او برکت د (کرزي) تر عنوان لاندي له انګرېزي ژبي څخه يو کتاب ژباړل سوی دئ، چي د يوه دباندني ليکوال له لوري د ولسمشر حامد کرزي په اجازه او موافقه ليکل سوی، چي په هغه کي د ولسمشر کرزي پر ژوند او دوی پوري اړوند ټولو حالاتو رڼا اچول سوې او ضمناً د افغانستان د تېرو کلونو پر سياسي حالاتو هم بېلابېل بحثونه لري، چي لوستنه يې د معلوماتو پر خزانه زياتونه بلل کېږي. ښاغلی غلام ولي نوري د پښتو ژبي ځوان ژباړونکی دئ، چي له څه وخت راهيسي يې موږ په پښتو خپرونو کي له ژباړلو مضامينو سره مخ کېږو او همدا ډول يې څه وخت تر مخه د (امر

باالمعروف) په نامه يو مستقل اثر هم ژباړلی دئ، چي دا دئ په دوهم ګام کي يې موږ له (کرزي) نومي کتاب سره اشنا کېږو.

د نوموړي کتاب د ټولو پېښو او پرېکړو سپيناوي ته اصلي ليکوال پرېږدو او د ژباړي په برخه کي يې قضاوت لوستونکو ته.

موږ ښاغلي غلام ولي نوري ته د کتاب د مبارکۍ تر څنګ، ده ته د اوږده او باثمره ژوند غوښتونکي يو، چي د اسکېرلي پښتو له پاره په پراخه کچه ارزښتمن آثار را وژباړي.

په درنښت

د ويښ ملګري فرهنګي ټولني نشراتي څانګه

کندهار – افغانستان

